سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۶/۰۵/۲۶

# د اسلامي غورځنګونو د کړکيچ سلوک،دوه ګوني متضاد چلند

## د خدايي خدمتګار او د حماس تر منځ يوه پرتلېزه څېړ

د المان توبينګن پوهنتون د سياستپوهني انيستيتوت
د توبينګن پوهنتون د نړيوال سياست او د سولي پلټني څېړنپانه
د المان د حبهارډ کارل پوهنتون د نړيوال سياست، د سولي او کړکېچ څيړني د نړيوالو اړيکو د مرکز څانګه
څېړنوال : ښاغلى ميشايل هورترر
د تحرير هيات : ښاغلى توماس غوش
د څېړني څېروونکى: ښاغلى اندرياس حزنکليور او ښاغلى فولکر غتبرګر
ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

ژباړن: بهترينه جګړه هغه جګړه ده، چي د جګړي مخه ونيوال شي. زما په اند، دا علمي څيرنه يوه په زړه پوري څېړنه ده، ځکه د پښتنو په تاريخ کي د اسلامي نړۍ د يو بيساري ستر بي وسلې مجاهد، د عدم تشدد سر لاري او په نړيواله کچه يو پيژندل شوي جهانشموله ستر متفکر انسان فخري افغان باچاخان د انګريزي او پنجابي استعمار خلاف د پښتنو افغانانو د خپلواکۍ په جګړه کي د وسله والو جګړو مخه ونيوله. د خانانو خان باچاخان د اسلامي نړۍ په محاصر تاريخ کي او د لوی افغانستان په محاصر تاريخ کي د بي وسلي پاځون يو ستر فلسفي ملي مبارز پيژندل شوي دی. د عدم تشد يوه داسي بيساري بيلګه نه په اسلامي نړۍ کي اونه په دوو نورو اسماني مذهبونو يهوديت او مسيحيت کي ليدلي شوي ده. له همدي امله د لندن او اسلام اباد واکداران او د انګريزانو او پنجابيانو يرغلګرو جنرالان له وسله وال مجاهد څخه دومره نه ويريدل، لکه څومره چي دوی د يو داسي د ټينګي او قوي ارادي خاوند، بي وسلي مجاهد، په نړيواله کچه د عدم تشدد علمبردار څخه بيريدل .همدارنګه په دي څېړنه کي د اسرائيلي يرغلګرو په وړاندي د فلسطين د مظلوم ولس پاځون او د حماس غورځنګ ته په درنه سترګه کتل شوي دي.
دا يوه آزاده څېړنېزه ژباړه ده، چي په روانه، ساده او آسانه بڼه د يو شمېر پوهنيزو، سياسي، مذهبي او حقوقي مسلکي اصطلاوي او د جملو مانا او مفاهيم په علمي توګه په کي بيان شوي دي.

د متحوياتو لنډ ليک:

د موضوع لنډيز :.......................................................................................................
١ . مذهبونه په کړکيچونو او شخړو کي د اغيز منو فکتورنو په حيث............................................
١ . ١ د موضوع را غونډول او محدودول.........................................................................
١ . ٢ د څېړنپاني يا د تحقيقاتي چار جوړښت .......................................................................
٢ . د ،، عامه پوهاوي ،، په اړه يو موډل ..........................................................................
٢ . ١ د ښاغلى Kuschel کوشل،، د حضرت ابراهيم ( ع ) په اړه دعوا،،او د،، عامه پوها وي،، اصطلاح.......


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

۲ . ۲ عامه پوهاوي د يو بنستيز تيوريکي موډل په څير........................................................................
۳ . په ميتوډ لوجيکي ډول د دې تحقيقاتي پروژي تصبيتول .................................................................
۳ . ۱ د متحولونو اصولو مالومول ........................................................................................
۳ . ۲ د څېړني يا پلټني څخه تمه کيدونکي پايلې.........................................................................
۳ . ۳ د قضيه موضوع ټاکنه ...................................................................................................
۴ . د پښتنو خدايي خدمتګار غورځنګ ..................................................................................
۴ . ۱ پښتانه په برتانوي هند کي ...........................................................................................
۴ . ۲ د خدايي خدمتګار غورځنګ جوړښت .............................................................................
۴ . ۳ د خدايي خدمتګار غورځنګ د مشرتابه د افهام او تفهيم اړيکي ...................................................
۴ . ۴ د خدايي خدمتګار غورځنګ د منځپانګي تمرکزي موخي او مهم ټکي ...........................................
۴ . ۴ .۱ د خدايي خدمتګار غورځنګ پر خپلځان او نفس باورمنتوب ......................................................
۴ .۴ .۲ د خدايي خدمتګار ليډلوی د کړکيچ د موضوع او د کړکيچ د مخالفينو په اړه ...................................
۴ .۴ .۳ د خدايي خدمتګار د مقاومت او خپلواکۍ مبارزې ستراتيجي ..................................................
۴ . ۵ د خدايي خدمتګار د کړکيچ چلند.....................................................................................
۶. د څيړني د لومړني برخي يا قضيي پايله .................................................................................
۵ . د فلسطينيانو حماس غوځنګ..........................................................................................
۵ .۱ فلسطينيان د اسراييلو تر نيواک لاندې ...................................................................................
۵ . ۲ د حماس غورځنګ جوړښت ...........................................................................................
۵ . ۳ د حماس د مشرتابه جوړښت او د افهام او تفهيم اړيکي ......................................................
۵ . ۴ د حماس د منځپانګي تمرکزي موخي او مهم ټکي ......................................................................
۵ . ۴ .۱ د حماس غورځنګ پر خپلځان او نفس باورمنتوب ........................................................................
۵ .۴ .۲ د حماس ليډلورۍ د کړکيچ د موضوع او د کړکيچ د مخالفينو په اړه ....................................................
۵ .۴ .۳ د حماس د مقاومت او خپلواکۍ مبارزې ستراتيجي ........................................................................
۵ . ۴ د حماس غورځنګ د کړکيچ چلند .....................................................................................
۵ . ۶ د څېړني د دويمي برخي يا قضيي تجزيه او تحليل ...........................................................................
۶. د څېړني پايلې.....................................................................................................
۶ ..۱ د دواړو قضيو د څېړني او پلټني پايلي ..................................................................................
۶ . ۲ د دريم متحول اړوندو اړيکو شونتيا .................................................................................
۶ . ۳ د شعور د ممکنه بدلون ستونزه ........................................................................................
۶ . ۴ د تيوريکي او عملي اغيزو يوځايوالي................................................................................

اخيځليکونه :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## د موضوع لنډيز: [1]

د دغې تحقيقاتي څېړنپاڼې د پيل ټکي پوښتنه داسې مطرح کيږي. مذهبونه ولې د مشابې اصولي چوکاټ درلودلو سره بيا هم کړکيچ ته د حل لار موندلو کې کله د کړکيچ په پراخوالي کې يا د قهرجني مبارزې له لارې او کله د سوله ييزې مبارزې له لارې پر خپلو پلويانو يا استازي باندې اغېز شيندي. د دې پوښتنې ځواب د څېړنې په موضوع کې اسلامي غورځنګونه د اشغال په حالت کې محدودوېږي او دې ته په يو ساده تيوريکي موډل کې وده ورکول کيږي. او دا موضوع د ښاغلي Karl-Josef Kuschels کارل يوزيف کوشل له خوا د عامه پوهاوي په اصطلاح کې ښودل کيږي. د دې موډل پر بنسټ خپلواک او ناخپلواکه متحول اړخونه د يو بل سره له نږدې څېړل او ټاکل کيږي. د دې پلټنې او څېړنې څخه تمه دا ده، چې په عمومي توګه ،، Universal „ نړيوال يا جهاني اسلامي غورځنګونه کړکېچ ته د حل لار موندلو کې د عدم تشده له لارې يا د سوله ييز حل لار موندلو ته ميلان لري. په داسې حال کې چې په „ Exclusivist“يا انحصار ي خوځښتونو او غورځنګونو کې د کړکيچ د حل لارې يا د شخړې په حلولو کې د قهرجني مبارزې فورمونو يا ډولونو ته تمايل ښودل کيږي.

په دې تحقيقاتي څېړنه کې د پښتنو خدايي خدمتګار غورځنګ او د فلسطينيانو د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) د يوې نمونوي قضيې په توګه تر څېړنې لاندې نيول کيږي او ورسره د دواړو Variable يا متحول غورځنګونو تجزيه او تحليل ترسره کيږي .

په دواړو مواردو او حالاتو کې کيداى شي دا متوقع تمې تائيدشي : د خدايي خدمتګار غورځنګ د کړکېچ د حل لار موندلو کړنو ته په کتو سره کيداى شي په د غه غورځنګ کې په لوړه نړيواله کچه Universality يا جهانشموليت څرګند شي. خدايي خدمتګاران په ټينګه اراده او په پرله پسې توګه کړکيچ ته د حل لار موندلو کې په عدم تشدد يا بې تاوه پاځون باندې کلک ولاړ ثابت شوي دي. د دې په خلاف د حماس غورځنګ د کړکيچ د حلولو په لار کې په پراخه کچه يو ډول Exclusivism انحصاري يا انحصارګرا پيژندل شوي دي او په دې غورځنګ کې کړکېچ ته د حل لار موندلو په لاره کې په لوړه کچه د ملکيانو په وړاندې د تاوتريخوالو ډک اعمال په نښه کړل شوي دي. د دې سره سره د دواړو مواردو په ځينو برخو کې يو شمير توپيرونه ليدل کيږي. احتمالاً داسې ښکاري، چې په کړکيچنو حالاتو کې د متحولونو مانا او عامه پوهاوي د مذهبي لوبغاړي شخصيتونو يا اکتورانو پوري اړه ولري: تر اوسه په دې اړوند کره څرګندونې د نورو پلټنو او څيړنو څخه مخکې له مخکې ناشونې دي.

(ژباړن :په لغوي يا وييز مانا Exclusivism انحصاريت يا مذهبي انحصارګرايي ته وايي.په لنډه مانا کې، د نورو اديانو او مذهبونو د ارزوني يو روحاني فورم دى.دغه عيسوي اصطلاح دا مانا او مفکوره افاده کوي،چې د دوى مذهب يواځيني واقعي، او شفا ښوونکي مذهب دى او نور مذهبونه په دې حقيقت کې هيڅ کومه ونډه نلري.

Universality يا جهانشوليت يو لاتيني تورى دى. په عمومي او تولیزه توګه يو مکاني او زماني تغير نه منونکي حالت دى او هم په عمومي توګه د علم، د پوهنې هراړخيز کرکتر، د پوهنيزو او علمي څرګندونو پراخ ماهيت ته اشاره کوي.)

## ۱. مذهبونه په کړکيچونو او شخړو کې د اغيزمنو فکتورنو په حيث

د نوييمو کلونو تر لومړيو پوري د مذهبونو [2] په اړه تولنپوهنه کې په پراخه کچه ستري بې غورى شوي دي. پيښې لکه په ايران کې انقلاب، د لبناني حزب الله لومړني ځانمرګي بريدونه او په نوولس سوه نوييمو ميلادي کالونو کې د

۱. د دې پلټنې يا ريسرچ پاڼې کاري بنسټ د ښاغلی څېړنوال د ماسټرۍ تيزس چارې جوړوي. په ۲۰۰۷ کال د جنوري مياشت کې د المان د توبينګين په پوهنتون کې د ټولنپوهنې او سلوکپوهنې پوهنځي کې د دې سرليک تر نامه لاندې،، د اشغال په حالت کې د اسلامي غورځنګونو دوه ګوني متضاد چلند او په کړکېچن حالت کې د دوى سلوک. د خدايي خدمتګار تحريک او د حماس تحريک تر منځ يوه پرتليزه تشريح ترسره شوي، څو د اديانو يا مذهبونو ترمنځ د تاوتريخوالي د ريښو په اړه يوه ريښتني تشريح وړاندې شي. دغه څېړنپاڼه يا د ماسټرۍ تيزس په لوى لاس اصلاح شوي او په نسخيزه بڼه کې په پراخه کچه را لنډه کړل شوي ده.

1

۲. په دوديزه توګه د دين يا مذهب کلمې تعريف يوه ګرانه چار ده. په دې څېړنه کې په ځانګړي ډول د دين يا مذهب اصطلاح يا مفهوم د هغو مذهبونو په اړه استعماليږي، چې دوى په دې باور دي. دوى ته الهې پيغام د يو پيغمبر له لارې د يوې الهي وحي له لارې رانازل شوي دى. يعني دلته مطلب د سماوي اديانو يا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بالقان جګړې پېښې دا ښيي چې د مذهبونو سياسي کړنې د وګړو پر انګيزو، کړنلارو، ګامې يا مقطعي لاربښوونو يا پلمې جوړولو کې د پام وړ ستري اغېزې درلودلې دي.
له همدې مهاله د سياسي کړکيچونو په بهير کې او کړکيچونو ته د حل لار موندلو کې په حيرانونکې او زياتيدونکې ډول يوه مخ پر وده مانا په ديني او ايماني موتقداتو کې ليدل کيږي. د موضوع په اړوند ادبياتو کې ،،د مذهبونو بيرته راستندلو څخه خبرې کيږي ،، (Risebrodt 2000). په عين حال کې په ځانګړې ډول د مذهب او تشدد په تړاو د ګڼ شمېر پوهانو له خوا پوهنيزه څېړني ترسره شوي دي.
( vgl. u.a. Kepel 1994; Huntington 1996 1998; Riesebrodt 2000; J.Uergensmeyer 2000 )
په دې اړوند د ښاغلي هينتونګ ،، د مدنيتونو يا کولتورنو جګړې،، په نامه ورانديني په ځانګړې ډول شهرت او پيژند موندلې دی. هغه مذهبې توپيرونه او مذهبي کړکېچونه په نړيوال سيستم کې د راتلونکو کړکېچونو مرکزي کرښې په توګه په ګوته کوي .[3] (Huntington 1996: 18f, 339) .
د دې تر څنګ نورې پوهنيزه څېړنې او لاسوندونه هم وړاندې کړل شوي دي او ليکي،چې د کړکيچ لوبغاري شخصيتونه د خپل عقيدې او ايمان پر بنسټ دې ته هڅول کيږي، چې پرته له تاوتريخوالي څخه خپل مقاومت ته دوام ورکړي او د کړکېچ د دواړو غاړو يا د دښمنو ډلو ترمنځ روغه جوړه کولې شي يا له جګړو ورسته ټولنوکې د پخلاينې بهير ګړندی کړي او په فعاله توګه په بې تاوه پاځون يا عدم تشدد کې او د سولې په بهير کې ونډه اخلې .
(vgl.u.a.Johnston/Sampson 1994;Sampson/Lederach 2000; Appleby 2000; Johnston 2003).
ښاغلی Appleby په خپل کتاب کې د پاکو، سپيڅلو دوه ګونې متضاد چلند، مذهب، تاوتريخوالې او پخلاينه، ) The Ambivalence oft the Sacred; Religion;Violence and Reconciliation ( په نامه. دی په دې کتاب کې د ښلا بېلو اغېزو او طريقو په اړه ليکي او هغه په ګوته کوي چې په ايماني او ديني موتقداتو ولاړه مبارزه لانورو بدمرغيو او تاوترخوالې ته لمن وهي او دا هم په ګوته کوي، چې له بله اړخه په مذهبي مقدساتو او ايماني موتقداتو ولاړه مبارزه د عدم تشدد د مبارزه له لارې د ثبات په ټينګولو کې د کړکيچ په مخنيوي کې په فعاله توګه سوله ييز اغېز هم درلودلې شي. که څه هم هغه د خپل دوه ګونې متضاد تشخيص په اړه کومې معقولې تشريح يا توضع ته وده نه ده کړې .(vgl. Appleby 2000).
په هر حال د ښاغلي Hasenclever هزن کليوير دې ټکي ته پام شوې، چې دغه تشخيص واقعاً يوې تشريح او يا وضاحت ته اړتيا لري، کله اوڅنګه مذهبونه او مذهبي مخکښ مشران يا استازې کولې شي، د کړکيچ په حالت کې په يو مشابې سياسي او اقتصادي چوکاټ کې کله په زياتيدونکې ډول د تاوتريخولې په رامنځ ته کولو کې او کله د ثبات په راوستلو او ټينګولو په برخه کې اغېزمن رول لوبولې شي.
(Hasenclever 2004: 9; vgl. hierzu auch Rittberger/Hasenclever 2000: 57)
ښاغلي هزن کليوير او غتبرګر Rittberger and Hasenclever د مذهبونو او د تشدد ترمنځ د تړاو پيژندنې په اړ درې تيوريکې اساسي دريځونه او پوښتنې را په ګوته کړې دي.
د موضوع اوږد ولې له امله دلته يوازې د تيوريو په نومونو باندې بسنه کيږي.
( vgl. Rittberger/ Hasenclever 1. Primoridilsmus; 2. Instrumentalists; 3. Constructivists . 2000:36 ff ).
ښاغلی هزن کليوير دا درېواړه تيوري په دې اساس راپه ګوته کوي: چې نه پريموډيالستان يا زاړه پال يا په ازل باورلرونکې او نه هم دويمه ډله خلک انسترومنتاليستان يا د سياسي وسپلې کارونکي يا د يوې سياسي آلې غړونکي په عمومي او ستراتيجيک ډول په سياست کې ايماني اختلافات يا عقيدتې توپيرونه د کړکيچ د اصلي لاملونو په حيث

---

دينونو څخه دی. سماوي دينونو نه لکه يهوديت، مسيحيت او د اسلام دين دی.البته د زردشت دين ته په پام سره. کله چې په دغه څېړنه او پلټنه کې د مذهبي شخصيتنو په اړه که خبرې کيږي،د دوی د کړنو ماخذونه د يوې الهي وحي اعتماد او باور په اساس تصويب کيږي.

[2] (vgl. Kasper et al. 1998, Sp. 1001).

[3] ۳،. د ښاغلي هينګتن د تيوري په اعتراض کې د ښاغلي سينګهاس تيوري وړاندې کيږي.

1998: 7 ff, 135 ff;Meyer 1998: 64 ff; Hansenclever 3003 :73 f .

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نه پيژني. دوی د مذهبي سنتونو څخه د سياسي متشبشينو په څير د خپلو سياسي موخو په ترسره کولو کي ګټه اخيستنه کوي. دوی کولای شي، چې د مذهب مناسب سوله ييز اغيزمن لوری ونيسي، په بله وينا( ژباړن : والصلح خير ). د دې پرځای دواړه خواووې او طريقې يواځې د مذهبي تشدد يا مذهبي تاوتريخوالي په لوري باندې خپل تمرکز ساتي. ښاغلی محقق هزن کليوير د دې په مقابل کي وايي، چې ديني پوهه، مذهبي خودمختاري او فراملیتوب يا د باندنيو شبکو سره اړيکي لرل هغه رسمي نښې نښاني دي، چې له دې لارې د وسېله ګرځيدلو ګواښ او د احتمالي وسله والو جګړو ګواښونو کچه را کميداي شي.(vgl. Hasenclever 2004, S. 7 ff)

که څه هم دلته په دې برخه کي د دې انکار ناشوني دی، چې په دريو واړو شکل ورکړل شوي ځانګړي اړيکو کي او د سياسي کړکيچ تر منځ به په متشدد ډول د تاوتريخوالي حساسيت به همداسي دوام ولري.سره د دې دا هم د پام وړ ده، چې نه تعليم، نه خودمختاري يا خپلواکی او يا له بهيرنيو شبکو transnatinal networking سره اړيکي د تاوتريخوالي څخه د لاس په سر کيدو په مانا دي. او يا هم په ريښتيني او فعاله توګه سوله ييز جوړجاړي ته د ژمن پاتي کيدلو ګرانتي ښودل کيږي. او آن د بهرنيو شبکو سره ښه وصل شوي، په لوړه کچه ښه بنسټيز شوي او په لوړه کچه په مذهبي زده کړو باندې ښه سنمبال شوي مذهبي شخصيتونه له تاوتريخوالي يا تشدد څخه کار اخلي.

د ښاغلی هزن کليوير له خوا وړاندې شوي پوښتنه، چې څنګه او په څه ډول دا بېلابېلي اغيزې کيدای شي د دين له خوا تشريح کړل شي، پوښتنه سره د دې ځانګړنو او نښې نښانو همداسي پر خپل ځای پاتي کيږي.

ښاغلی هزن کليوير په مشخصه توګه دريم حالت ته، چې Constructivists يا د جوړوونکو حالت په نامه يادېږي نه ورنږدې کيږي: دغه تيوري دين ته په يو ځانګړي اهميت قايلېږي، د دې تيوري پر بنياد دين مذهبي لوبغاړي ته د شعوري ذهنيت جوړولوکي بنسټيزجوړښتونه رامنځ ته کوي. دا جوړښتونه د کړکيچ پر بهير باندې مثبت او منفي اغيز درلودلي شي. په داسي حال کي چې مذهب د کړکيچ پر څرنګوالي باندې، د مذهبي شخصيت ليدلوري باندې او بلاخره د ستراتيجی په ټاکنه باندې عملاً اغيز درلودلي شي. ( Vgl. Rittberger/ Hansenclever 2000:39 f)

جوړوونکي تيوري د څيرني د موضوع په اړه د يوې جامع او مفصلي تشريح په ورکولو کي هم پوروړي پريوځي.[4] په دې لړ کي د پيل پښتنه، چې ولي مذهبونه د مشابې اصولي چوکاټ په درلودلو سره بيا هم کړکيچ ته د حل لار موندلو کي کله د کړکيچ په پراخوالي کي يا د قهرجني مبارزې لارې او کله د عدم تشدد يا د سوله ييزې مبارزې له لارې پر خپلو پلويانو يا استازو باندې اغيز شيندي. تراوسه د موضوع په اړه دا پوښتنه په دې پلټنو او مبحثونو کي نه ده ځواب شوي. په دغه څېړنه کي به يوه هڅه وشي، چې دې پوښتني ته د ،، عامه پوهاوي،، د اصطلاح يا مفهوم په مرسته يو ځواب وموندل شي. (Kuschel 2001)

## ۱ . ۱ د موضوع را غونډول او محدودول

د عملي تحقيقاتي څېړنيزو کړنلارو پر بنسټ دا ريسرچ پانه د مذهبي غورځنګونو د کړکيچن سلوک په اړه محدوديزي. په دې لړ کي دا غورځنګونو دلته د ټولنيزو غورځنګونو مانا افاده کوي. د دوی د مجدد اتصال او د پايښت ګډ عنصرونه د يو سماوي يا الهي نازل شوي دين څخه دی. په داسي حال کي چې دا عنصرونه تر ډيره بريده په دوی کي په پراخه توګه پرته له ناندريو منلي شوي دي. دا په ګوته شوي تاوتريخوالی او له خشونت ډک دوګوني متضاد چلندونه د نړۍ په ټولو دينونو يا مذهبونو کي ليدل شوي دي .( vgl. u.a. Cox 1994; Hasenclever 2004: 9; Hildebrandt 2005: 17د دين او تاوتريخوالي يا تشدد په اړه دا اوسني جرو بحث او مباحثه تر ډيره بريده په اسلام ( ژباړن : د اسلام په سپيڅلي دين کي) د شخړو په تړاو ټاکل شوي او تر سره کيږي (vgl. u.a. Esposito 1995: 3ff).

له همدې امله بايد دوه اسلامي غورځنګونه له يو بل سره پرتله کړل شي، څو ډير اړوند ګډ فکتورنه تر څېړني لاندې ونيول شي. دا به معقوله لار وي، چې د دوی د کړکيچ چلند د اصولو په چوکاټ کي څومره چې شوني وي، تر خپله وسه په ثابت ډول ثابت وساتل شي. په دغه څېړنه کي دوه اسلامي غورځنګونه پلټل کيږي، دوی خپل ځان د

---

۴ . ښاغلي غتېرګر او هنزن کليوير ( ۲۰۰۰ ) د ښاغلي چينکوف ( ۱۹۹۷ ) او د ښاغلي هوفت ( ۱۹۸۹۸ ) کالونو د دې تيوري پلوي و. ښاغلي چينکوف بيا يوازې توکمې هويت د خپلو جوړونکې تيوري د څېړلو په مرکز کې ايښودلې ده. ښاغلي هوفت د مذهب مانا په دقيق ډول نه تشريح کوي. د کتاب مولف ته هيڅ ډول جوړونکې اثار نه دي مالوم، چې په کې د دغې ستونزه په اړه په مفصل ډول بحث شوي وای او يا يوه قناعت بښوونکې تشريح ورکړل شوي وای.[4]




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يو اشغالګر يا نيواکګر ځواک سره مخامخ ويني. يرغلګرو ځواکونو دغه هيوادونه په سياسي، اقتصادي او پوځي برخه کې کنټرولوي. دا ډېرل کيدونکي اسلامي غورځنګونه په دې هڅه او زيار کې دي، څو د پرديو بهرنيو اشغالګرو څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړي. د مقاومت په مبارزه کې دغه غورځنګونه د توکو په انتخاب کې له يو بل سره توپير لري. د دې نسخې په مرسته کيداى شي د څېړنې کليدي پوښتنه لا نوره په دقيقه او روښانه توګه مطرح کړل شي:
اسلامي غورځنګونو ولې د اشغال په حالت کې کله د تشدد يا د تاوترخوالي او کله هم د بې تاوه پاڅون يا عدم تشد له لارې د کړکېچ څخه د خلاصون يا کړکيچ ته د حل لار موندلو لپاره هلې ځلې ترسره کوي ؟

## ۱ . ۲ د څېړنپاني يا د تحقيقاتي چار جوړښت

د پوښتنې د څېړنې په اړه يو سم ځواب موندل په ځلور پړاونو کې ترسره شي : لومړي به د ښاغلی Kuschel د عامه پوهاوي د مفهوم پر بنسټ ورته وکتل شي. ده دغي مفهوم يا اصطلاح ته په يو ساده تيوريکي مودل کې وده ورکړې ده. دويم ګام کې به په دقيق ډول د متحولونو پلټلو او څېړنو ته تر ورستي ټکي پورې اختصاص ورکړل شي او ور سره به تمه کيدونکي فورمول بندي ته يو ژبنی شکل ورکړل شي او همدارنګه د ټاکل شويو موضوعاتو په اړه په ميتوډيکه بڼه يوه سمه او ځرګنده پلټنه تر سره شي. ورپسې به بيا ټاکل شوي قضيې په ډېر ځير سره تحليل او تجزيه شي. په دغه څېړنه کې د راټول شويو شواهدو په اړه يو شمير ګوتنيونکي بحثونه، لوړې پلټنې او د څېړنې په اړه د تر لاسه شويو ځانګړې پايلې او په دې ډول به يو شمير تمه کيدونکي پوهيزه څېړنې د راتلونکي علمي چارو د موضوعاتو په اړه په نښه کړل شي.

## ۲. د ،، عامه پوهاوي،، په اړه يو موډل

## ۲. ۱ د ښاغلي کوشل Kuschel د،، ابراهيم (ع) په اړه دعوا، او د ،،عامه پوهاوي ،، اصطلاح

ښاغلی څېړنوال په خپل کتاب کې په ځانګړي توګه د ابراهيمي جهانشموله عامه پوهاوي په اړه د دريو واړو سماوي دينونو لارويان يهوديانو، مسيحيانو او د مسلمانانو تر منځ د شونتياوو، ليدلوری، مناظرو او بحثونو باندې بوختيږي. هغه د خپل کتاب په لومړی ځپرکی کې حضرت ابراهيم عليه السلام (ع) د دريو واړو دينونو سلف ، جد او يا اصلي پلار په نامه ياده وي. ده په دې تړاو يوه په زړه پورې پوهنيزه موندنه کړې. هغه د پخوانيو سرچينوپه حوله او د جهاني ابعادو پر بنياد په دريو واړو سنتونو يا دودنو کې د ابراهيم عليه السلام (ع) له ستر شخصيت او لوړ منزلت سره مخامخ کيږي. د عبري په سپيڅلي کتاب کې ( Gen.12;3) ابراهيم (ع) د ځمکې پرمخ د ټولو ولسونو لپاره د خير او برکت دوعا کړې ده. د مسيحيانود انجيل په کتاب کې ( Röm 4 ) دی د خدای په حضور کې زموږ ټولو پلار په نامه يادېږي. د مسلمانانو په قران مجيد کې د ( دويمه سوره، ۱۲۴ نمبر آيت ) کې ابراهيم (ع) د ټول انسانيت بشپړه بيلګه په نامه نومول شوي دی. (Vgl:. Kuschel2001: 44;123;199) دا ټول اخيځونه او موارد له ابراهيم (ع) څخه يو داسې شخصيت او مقام جوړوي، چې د ده شخصيت د هر يوه قوم او د هر يوه دين د پولو ور اخوا اړوندوسره تړوا لري. ورسته بيا په دريواړو ابراهيمي اديانو کې د انقباض د رامنځته کيدو سره هر يوه دين د ابراهيم (ع) څخه تر ډيرې کچې د خپل مذهبي سنتونو په را ټولونه کې ترينه ګټه اخيستنه کړې ده. ورسره د ابراهيم (ع) جهان شموله شاليد ته شا اړول شوي ده، پرته له دې چې دی په بشپړه توګه يوې خوا ته پريښودل شي.
نو په دې ډول اسراييل د ابراهيم (ع) د خدای يو قوم په نامه يادوي. (Psalm 47,10 ) همداسې عيسی ( ع ) د ابراهيم (ع) د شخصيت څخه مخکې شتون درلود ( vgl. Joh 8, 58). او هم د قران کريم په ( ۳سوره ،۶۸ نمبر آيت) کې ابراهيم (ع) د مسلمانانو لپاره يو ستر ريښتنی لومړيتوب لري.[5] (vgl.Kuschel 2001: 57, 152,203 ) په دې ورستيو پړاونو کې په دريو واړو دينونوکې د ابراهيمي جهانشموله عنصرونه يا اجزاوې نفي کيږي او معمولاً په انحصاريتوب باندې تاکيد کيږي.

[5] ۵ که څه هم آن قرانکريم پرته له استثنا څخه مسلمانان د ابراهيم (ع) انحصاري اولادنو په نامه نه يادوي. د کوشل په اند ، له ابراهيم (ع ) سر د محمد (ص) د ځانګړي (Kuschel 2001: 202) انحصاري سير او د نړدوالي اړيکې له پامه نشي غورځيدلې.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د دې سربيره د ښاغلي کوشل پريزنتيشن د ابراهيم (ع) د جهانشموليت او انحصاري عنصرونه په تړاو څېړنې دا روښانوي او ښيي، چې د ځينو عنصرونو په استثنا نور ټول عنصرونه د درېواړو دينونو په سرچينه کې له پخوا نه په يوه کچه ليدل کيږي او د هر يو مذهب په سنتونو کې اکثراً د يو انحصاري فهرست په څير تر اوسه ادامه لري. د ښاغلي کوشل د څېړونو پربنسټ دغه پرمختګونه د اسلام په سپېڅلي دين کې د درک وړ دي. :Kuschel 2001) (176 ff که څه هم د قران اعظيم الشان د وحي په دور يا د نازليدو په دواړو پړواونو کې احساس کيږي: له دې املـه د ،،مکي معظمې د نازيدولو په پړاو ،، کې اسلام د انسانانو د مذهبي هدايتو او لارښووني لپاره راليږلي شوي دی.( ebenda: 187f) په داسي حال کې چې د ،،مدني يا مدينه منورې د نازليدولو پړاو په پيل کې د نبوي پيغامونو بهير د يو ډول پياوړې عربېزم سره مل و[6] .( ebenda: 191 ) که په ښه ځير سره وکتل شي،کله چې مسلمانانو د سياسي شخړو له امله مدينې منورې ته هجرت وکړ. له همدې مهاله په اسلامي پيغامونوکې د يهوديت او مسيحيت سره د بيلوالي يو ډول قوي او پياوړي نښې نښانې او اعلامي ليدل کيږي .او ورسره لومړني جګړيز تاوتريخوالی او شخړې رامنځ ته شوې. دلته چې کوم بدلونونه او د ډول ډول بيلګې د ښاغلي کوشل له خوا وړاندې کړل شوي دي، د اسلامي پوهانو لخوا په وار وار په هراړخيز ډول څېړل شوي، او مستند کړل شوي دي .
(vgl.Paret 1980: 117ff; Wett/Welch 1980: 118ff;  Endreß 1991 :40ff;Khrury 2002: 16ff)
د خپل کتاب په دويمه برخه کې ښاغلي کوشل د ابراهيمي جهانشموليت يا نړيوالتوب په اړه يو ليدلوري ته وده ورکوي. په همدې لړ کې دی لومړۍ د ،، عامه پوهاوې ، مفهوم او اصطلاح هم تشرح کوي.
د دې مفهوم يا اصطلاح لاندې دی داسي پوهيږي : عامه پوهاونه يا ذهنيت جوړونه په نړيواله کچه يو فکر دی، چې نور کولتورونه او مذهبونه په نړيواله ټولنه کې د دوه اړخيزه مسووليت پر بنسټ له يو بل سره واوبدلي يا وګنډلي شي. څوک چې جهانشموله پراخ ستر فکر کوي، دی په نړيواله کچه له نورو سره د خپلوي په عمومي اړيکو کې پراخ بنسټه فکر کوي. دی د بشريت په تاريخ کې فکر کوي، دی بشر يت ته يو ډول مسوول فکر کوي. څوک چې جهانشموله فکر کوي، ده ته نه يواځې خپله سيمه، خپل ملت او خپل مذهب مهم دی، بلکې دی د ټولو مذهبونو او د ټول بشريت له برخليک سره مهارت او پيژندنه لري.( Kuschel 2001 214)
د عامه پوهاوي وده او پرمختګ د دې لامل ګرځي، چې د ابراهيمي سماوي اديانو يا نازل شويو دينونو ريښو ته بيرته د ور ګرځيدلو په مانا ده: دلته موخه دا ده، چې جهانشموليت يا نړيوالتوب بيرته وموندل شي او په کې د نړيوالتوب په ګټه انحصاريت له منځه ولاړه شي. مومنان يا د عقيدې او ايمان خاوندان بايد په خپلو کړو وړو کې ټولو مذهبونو او ټول انسانيت يا بشريت ته ځان مسوول احساس کړي.
د عامه پوهاوي تر لاسه کولو لپاره ښاغلی کوشل څو شرطونه ايښودلي دي. لومړني شرط داسي ښيې، يوه ،،نوي افقي نړۍ ،، بايد رامنځ ته شي (ebenda: 214) ، چې په هغه کې د ټل لپاره د نړۍ د ولسونه ترمنځ د يو بل سره د نږدېوالي يا نږديکيدولو درک رامنځ ته شي، څو له يو بل سره يو ځای شي او په دې نوې ولسي نړۍکې د نړۍ د ولسونو ترمنځ د مينې، محبت او د يووالي غوښتنو اړتيا ووې رامنځ ته شي او دا غوښتنې د الله تعالی سره په تړاو د يوې ګډې ديني يا مذهبي بنستيزي پوهې پر بنسټ، چې موخه بشريت ته د يو قاطع او فيصله کوونکې نښې په توګه د ځانګړې ارزښتونو او پريکنده عمده کلماتو په توګه ورته کتل شي. د هغه دويم شرط داسي دی. د مذهبونوپه تړاو پر خپل ځان انتقاد،ګوتنيووکې او خپلو تيروتنو ته سر ايښودل دي، د تعصب غندنه، د غندنې غندنه، د مذهبي سختدريځۍ محکومول او له دې څخه سترګې نه پټول او د افراطيت حکم نه صادرول او د يو قاضي په څير حکم نه صادرول، نفرت او دښمنی نه خپرول او اصلي موضوع دا ده ،چې په نړيواله کچه د ټولو انسانانو انساني کرامت او وقار پيژندل شي. او د ورستي شرط په توګه دی د درېواړو نازل شويو دينونونه يا ابراهيمي مذهبونو د مطلقيت څخه بيرته را ګرځيدنه او د انحصاريت سالمواو شفا ورکوونکو ادعاووې غوښتنه کوي. د دغو شرايطو په کارولوسره دا درک کيدای شي،چې آيا عامه پوهاوي د يو لوبغاری خپل قانوني حق ګڼل کيدای شي او دی خپلو فکر ونه او تفکراتو ته په جهانشموله نړيوالو کټګوريو کې برلاسي ورکولي شي او يا ورسره نښلولي شي. .vgl) ebenda : 220 ff )

[6] د کوشل د څيړنو مطابق سره د دې ټولو جوتو نښونښانو او علايمو عربيزم څه نا څه د اسماعيل (ع) د نوي رول او د کعبې د نوی رول سره سره د قرانکريم عالميت يا نړيوالتوب له پامه نشي غورځيدلي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## ۲ . ۲ عامه پوهاوي د يو بنسټيز تيوريکي موډل په څير

د ښاغلي کوشل د ارزونو او وينااوو پر بنياد په يهوديت، مسيحيت او اسلام کي په يوه ټاکلي اندازه دوه ګونيتوب ليدل کيږي. تر ټولو د مخه لومړی د تشدد او تاوتريخوالي ډک دوه ګوني متضاد چلندونه دي، چي په همدې څېړنه کي همدغه موضوع پلټل کيږي. ښايي چي مستقيمي تينګي اړيکي ونلري .خو هرومرو ګټور او د مالوماتو څخه ډک ښکاري. له دي کړنلاري څخه د څېړني د يوي پوښتني په اړه کاراخيستل کيږي. په دي لړ کي عامه پوهاوي ته په حيث د يوي متحولي شونتيا په څير وده ورکول کيږي. په تير بيا د ځينو مذهبي سوله ييز لوبغاړو،کرکټرنونه او شخصيتونه، چي د عامه لاربنووني له لارې عام خلک توجيه کوي، داسي انګيرل کيږي، چي دوی د يوه ځانګړي پوهي خاوندان بلل يا ګڼل کيږي .[7]

په همدې بهير کي دا متحول يا بدليدونکي ملاحظات د جوړوونکي لوبغاړو په فکرونو کي ځای پرځای کيږي. ځکه د دوی اساس او بنياد دين جوړوي او راز راز ذهنيتونو او شعوري جوړښتونه ارايه کوي او په خپل وار سره دوی په حيث د يو فورم شوي پوهمنه يا شعوري پوهاوي بهير سره تړاو لري.

( vgl.Rittberger/Hasenclever 2000:40 )

په دي لحاظ تر دي دمه دا خصوصيات د منلو وړ ښکاري، چي په ورته مشابهي او يا عيناً اعيار شويو کړکيچونه او جوړښتونه په بل خيل درک کيږي. په داسي حال کي چي کله د يوه لوبغاړی يا ممثل د کړنو په بنسټ کي انحصار يت شتون ولري او د بل لوبغاړی د اعمالو په بنسټ کي جهانشموليت شتون ولري .

د اسلامي غورځنګونو تحليل کيدای شي په دريو پړاونو کي تر سره کيږي. دا به د څېړني د سريزې په پيل کي له يادو شويو او ښودل شويو جوړوونکو دريځونو ته مراجعه وکړي يا ورسره اړيکه ونيسي :

( ۱) تر ټولو د مخه بايد د غورځنګ يا د خوځښت پر خپلځان او نفس باورمنتوب په پام کي ونيول شي: چي د دوی د نفس په بنسټ کي جهانشموليت او يا د انحصاريت پوهاوي ارزښتونه نغښتل شوي دی؟ .

( ۲) ورسته بيا دا هم په پام کي ونيول شي، چي د کړکيچ لوبغاړی د کړکيچ موضوع او د خپل کړکيچ مخالفينو په اړه څه ډول درک لري.په هغه کي د انحصاريت او يا د جهانشموليت اغيزې په څه ډول د ليدلو وړ جوت ليدل کيږي .

( ۳) په پای کي بايد دا هم وڅيړل شي، چي لوبغاړی د کړکيچ په هواري کي کوم ډول د تبلغ توکي تبليغوي او تر کومه حده پوري د تبليغ په توکو کي د مخکي ياد شوي اصطلاوي انحصاريت اوجهانشموليت انعکاس موندل کيږي؟

په دي توګه مطرح شوي پوښتنه په يو اسانه تيوريکي موډل کي تشريح ته وړاندي کيږي. د تمي پربنسټ، هغه اسلامي غورځنګونه چي د دوی په بنسټ کي جهانشموليت يا نړيوالتوب شتون ولري. دوی د اشغالګرو يا نيواګرځواک په وړاندي د عدم تشدد له فورمونو او ډولونو څخه د کړکيچ په هواري کي يا کړکيچ ته د حل لار موندلو کي هڅي کوي. په داسي حال کي هغه اسلامي غورځنګونه چي په انحصاريت باندي ټينګ ولاړل دي، دوی د اشغالګر ځواک په وړاندي په تشدد، قهرجني يا په وسله واله مبارزې لاس پوري کولو ته تمايل لري.

## ۳ . په ميتود لوجيکي بڼه د تحقيقاتي پروژي تصبيتول

### ۳ . ۱ د متحولو اصولو تعيينوول

د دي تحقيقاتي څېړني موخه په دي کي نغښتي ده،څو د متحولو عامه پوهاوي په مرسته تشريح کړل شي،چي ولي ځيني اسلامي غورځنګونه د اشغال په حالت کي له تشدد او خشونت څخه کار اخلي. په داسي حال کي نور بيا په ورته پړتله شوي حالت کي د عدم تشدد يا د سوله ييز مقاومت د يو فورم پلي کولوپريکړه کوي. په دي توګه په روان کړکيچن حالت کي د تحريک سلوک يا رفتار د هماغي وخت د اشغالي وضعيت ته په کتوسره د متحولو اصولو له تعيينولو سره تړاو ولري. (Vgl.Van Evera 1997 : 11

---

[7] (Ebert 1998: 9). ښاغلي هبرد همداسي يو ډول نظر د مهاتما ګاندهي په اړه هم لري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولـئ

د تشدد يا تاوتريخوالي په اړه د ښاغلی Johan Galtung په تعريف باندي ډېره لګول کيږي، د يو فرد يا شخص له خوا د زور زياتی يا خشونت کارول، که هغه فيزيکي يا رواني بڼه ولري، تشدد ويل کيږي. : (vgl.Galgung 1975 11 ff ) [8]

په دې اساس د نيواک په کړکيچن وضعيت کې د عدم تشدد يا د تاوتريخوالي پرته سلوک هغه مهال ليدل کيږي،چي د مقاومت غورځنګ د عدم تشدد مبارزه يا بې تاوه پاځون پيل کړي او د مقاومت غورځنګ د فردي يا شخصي تاوتريخوالي او تشدد د ټولو بڼو او فورمولبنديو څخه د لاس په سروکولو بريالي هڅه وکړي او ورسره تشدد د اشغال په حالت کې د يو جوړښتيزه سيستم په څير درک کړل شي او پر هغه باندې برى ومونډل شي . [9]

د مقاومت غورځنګ د کړکيچ سلوک په خپل وار سره د تشدد اويا د عدم تشدد تګلاره په مختلفو درجو باندې ويشل کيږي، څو توپير وشي چي کړکيچ ته د حل لار مونډل د زور له لارې او يا پرته د زور له لارې رامنځ ته شوي ده . [10] کله چي سپوتاژ، مالي زيانونه او فيزيکي اخ ډب يا د فردي سوک وهني مبارزه د سوله ييزې بې ضرره مبارزې په نامه يادېږي. خو سره د دې دا ټول کړکيچ ته د حل لارمونډلو کې د زور زياتيو په فورمونو کې درجه بندي کيږي.د يو ځانګړي تنظيم شوي عمل په وړاندې ګڼ شمېر تصادفي را ټول شوي ملکيانو په ښه کيدلوسره دوی د تاوتريخوالي د يوعمل ښکارګرځيدلي دي. دا ټول کړکيچ ته د حل لار مونډلو کې د تاوتريخوالي يا د زور زياتيو يوه بڼه ده،چي په کې بيا نورې د افراط درجې هم پيژندل کيږي. د کړکيچ د حل لار مونډلو کې يوه مشابهي درجه بندي د عدم تشدد په اړه هم پيژندل کيدای شي:

کله چي درخواستونه، اعتصابونه او خال خال اعتراضونه يا احتجاجونه د کړکيچ د حل لار مونډلو ډولونو چي موخه په جزيياتو کې بدلون راوستل وي، تر ډيره بريده په ډيره ټيټه کچه د زور زياتيو پرته کړکيچ حلو فصلول وي، کيدای شي په داسي يو حالت کې د يوې جګه درجې د عدم تشدد عمل څخه خبره وشي او په همدې ترتيب سره کله چي د عدم تشدد عمل په سيستماتيک او مسلسل ډول تر سره شي او که د عدم تشدد عمل د راز راز ميتودنو له لارې په سياسي. اقتصادي او ټولنيز کچه استعمال شي.په داسي حال کې چي هر ډول د فردي يا شخصي تشدد په پرنسيبي او کټګوريکه کې بڼه ترينه ويستل شوي دی.په دې برخه کې د منځنې پړاو درجه بندي هم شتون لري.

هغه متحولونونه چي د اسلامي غورځنګونو د کړکيچ سلوک د تشريح کولو موخه او قصد لري، د پلټني ناخپلواک متحولونه دی.دا ناخپلواک متحولونه د ښاغلي کوشل د عامه پوهاوي او په ځانګړي ډول پر انحصاريت او جهانشموليت اصطلاوې باندې اړخ لګوي: په داسي حال کې چي د انحصار ګرو په مفکوره کې د خپل مذهبي د ساحه څخه د باندې د ژوغورنې کومه بله لار شتون نلري.بيا د جهانشموليت مفکوري يا د نړيوال ذهنيت لرونکو کرکټر او خاصيت دا دی،چي د هرې يوې ډلې او هر يوه مذهب په اړه جلا جلا ناپيلي فکرونه وکړي او د نورو مذهبونو خپل حيثيت او وقار په رسميت پيژني. پرته له دې چي دوی د نورو مذهبونوسره مذهبي مجبوبيت او ليوالتيا وښيي.

هم دې ښپلا بيل او هر اړخيز متحولونو په اړه جوت تلفظ شوي درجې ښودل شوني او ګټور پريوځي :

په سختدريځه افراطي انحصاريت کې د نورو مذهبونو پيروان کافر ګڼل کيږي اوله همدې سره د دښمنی ټاپه پرې وهل کيږي.د دوی خپلي موخې او کړه وړه يومخيزه قانون ورته ګرځي.د نورو پردي سټندردونه له منځه وړل

---

٨ شخصي فيزيکي تشدد کيدای شي ديو کس د سوک وهنې جګړې څخه نيولي بيا تر تنظيم شوي، په وسلو سمبال شويو د وسله وال پوځ جګړو پورې ورسيږي. شرط تل دا وي چي قرباني شوي يا متضرر شخص ته فيزيکې درد ورسول شي. ټولو هغه موقفي کړه وړه ته، چې د فيزيکې تشدد ګواښ په سترګه ورته کتل کيږي.د بيلګې په ډول لکه په خپله د تشدد کارونې څخه د تېرديدلو شرايطونو ايښودل، د توکو ورانولو يا د خلع سلاح يا بې وسلې کولو څخه انکارکول، دا ټول موارد روانې تشدد [8] . دفورمونو په حيث د چلښت وړ او عتبار لري.

٩. د تنظيم شوي يا جوړ شوي خشونت د مفهوم په اړه ښاغلي ګلتونګ داسي وايي، دا هغه حالت دی،چې کله يوه ټولنيزه بې عدالتي شتون ولري. د اشغال حالت پرته له شکه د همدې ډول حالت مانا لری. د عدم خشونت مفهوم ښاغلي هاګن برند داسي تعريفوي،زيار ايستل کيږي او هلي ځلی کيږي څو عدالت پرته ديو بل نوي تشدد يا تاوتريخوالي بيرته پلي شي

[9] . (Berndt 1998 : 13 ) (vgl. Sharp 1973 ) د عدم تشد يا بې تاوه پاځون د کړو وړو ميتودونه څښت ډير دي.

[10] .لاندې درجه بندې اساسآ د ښاغلي ګلتونګ(١٩٧٥ )، شارپ(١٩٧٣) او فورست( ١٩٩٢ ) د نسخو پر بنسټ تر سره شوي دي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

کيږي او په خورا افراطي بڼه کې د ښو او بدو او همداسي د خپلو او پرديو ترمنځ توپير کيږي .د دې تر څنګ بيا په انحصاريت کې د لږو ښنسټپالو او سختدريځو ګامونه تصور او فکر هم ليدل کيداى شي.

په داسي حال کې چې په نسبي ډول په ټيټه کچه د جهانشموله فکر درجه بندي پولې په ګرانه توګه تصبيتيدلي شي. د ښاغلي کوشل دعامه پوهاوي تعريف کې د انساني مسوول فکر برعکس جهانشموليت يا نړيوالتوب د يو عالي فورم په څير ليکلي شوي دى .

د شاخصونو په حيث د جهانشموليت يا انحصاريت اړونده حدودد مالومولو او ټاکلو لپاره به ګټور پريوځي، کله چې د ښاغلى کوشل شرطونوته د عامه پوهاوي په بڼه کې بيرته ور وګرځيدل شي.

(vgl. 2.1; Kuschel 2001: 214ff).

ورسته له دې به د متحولونو مالومول د لاندو پوښتنو له مخي وټاکل شي:

( ۱) آيا د مذهبونو د ګډو فکرونو په سر چينو کې د ولسونو په يووالي کې يا د دوى په پرتله کولو کې او يا د دوى په محدودلو باندې ټينګار کې، څه تر لاسه او يا موندل کيداى شي.؟

( ۲) لوى خداى د هر شي خالق دى او د ټول بشريت د جنسيت موخي او مبدا ښودل کيږي او يا هغه يواځي د خپل مذهب سره سمون خوري او ادعا کيږي ؟

( ۳)آيا د شفا ښنونکي انحصارګرايي په اړه يو رد ځواب شته دى او يا د شفا ورکونکي انحصاريت په اړه کار روان دى او يا په ځانګړي توګه ټينګار ترينه کيږي ؟.

( ۴) آيا زيار ايستل کيږي، څو تعصبات لږ شي،نفرت او دښمني تشخيص شي. د تعصباتو او د دښمنيو انځورونه جوړ او تر سيم شي او يا همداسي نفرت او دښمنيو ته لمن ووهل شي ؟

د دې پوښتنو او شاخصونو په مرسته کيداى شي وړاندې شوي متحولونه په ښکاره او شفافه توګه د درک وړ وګرځي او د پوهيدلو اندازې مالومه شي. څو د دې ضمانت را منځ ته شي،چې دا متحولونه په ريښتيا سره د کړکيچ د حل لارې موندلو کې نا خپلواکه دي او هيڅ راز تړاو ورسره نلري. دواړه متحولونه يواځي د وخت د تفکيک سره مرسته کولي شي: تر ټولو لومړي بايد وپټيل شي،چې خوځښت له پيل څخه په دې مانا، چې آيا د غورځنګ په لومړيو کالونو کې د جهانشموليت يا انحصاريت اګاهي شتون درلوده او دا دواړه مفاهيم د دوى د کړکيچ د موضوع په درکولو کې، د کړکيچ له مخالفينو او کړکيچ ته د حل لارموندلوپه توکو باندې څه ډول اغيز درلوده ،ورسته بيا په پام کې ونيول شي، چې غورځنګ د کړکيچ څخه ورسته څه ډول تګلاره خپله کړه. د متحولونود توپير او پيژندني لپاره يو بل روښانه شرط دا دى او د دې شونتيا شته ده، چې دا متحولونه د بيلابيلو اړخونو له لارې وپيژندل شي. له همدې امله د عامه پوهاوي پلټنې اوتحقيقاتي کلمات بايد( په ليکل شوي يا ويلي شوي بڼه ) کې محدود پاتې شي. د دې اجازه نشته، چې دا اعمال او اقدامات د ثبوت په حيث ديوى ځانګړي پوهاوي ازمويني يا د شعوري تغمي تصور وشي او تر اغيز لاندې راوستل شي. کړکيچ ته د حل لار موندلو ټاکلي غوره شوي لار بايد د اعمالو په پام کې نيولو سره اندازه شي .

## ۲ . ۳ د تحقيقاتي څيرني څخه تمه کيدونکي پايلي

په دويم څپرکى کې تمې داسي چمتوشوي او شکل ورکړل شوي، چې عامه پوهاوي د کړکيچ سوليز حل ته لار موندل يا عدم تشدد ته لاربښوونه کوي او همداسي په انحصاري درک کې کړکيچ ته د حل لار موندلو کې د تاوتريخوالي له لارې يا د تشدد له لارې د حل لار موندل کيږي. د متحولونو د دقيقي توضع څخه ورسته تمې په کاملاً کره توګه تشخيصيږي:

( ۱) چې څومره يو اسلامي غورځنګ په نړيوالتوب يا جهانشموليت ولاړ وي، په هومره لوړه اندازه د دې ډيره شونتيا شته ده ، چې غورځنګ د اشغال په حالت کې کړکيچ ته يوه د سوليز حل لار انتخاب کړي .

( ۲) يو اسلامي غورځنګ چې څومره په انحصاريزم ولاړ وي، په هغمره لوړه کچه د دې ډيره شونتيا شته ده، چې غورځنګ د نيواک په حالت کې د کړکيچ په هواري کې د تاوتريخوالي څخه ډکه د حل لار انتخاب کړي .

دا په ډاګه کيږي، چې په لوړه کچه يوجهانشموله خوځښت، په يو بې حده ځواکمنه توګه پرته له تاوتريخوالي څخه په سوليزه ډول د عدم تشدد له لارې مبارزه اوعمل کوي .په داسي حال کې يو بې حده انحصاري غورځنګ په يوه

لوړه کچه د تاوتریخوالي له لارې متشدده قهرجنه مبارزه کې عمل کوي .کیدای شي په دې اړوند د ښاغلي فان حویره له خوا د متحولونو څېړلو او د تحقیقاتو څخه ورسته یو ارتباطي اغېز ثابت شي .[11]

## ۳.۳ د موضوع ټاکنه

د دې څېړنې په محدود چوکاټ کې کیدای شي، یواځې په پرتلیزه توګه په دوو موضوعګانو کې د متفاوتو میتودنو له لارې له مطرح شوي پوښتنې سره یو شانته چلند وشي. [12] تر دې ورسته باید یو د عدم تشدد یا پرته له تاوتریخوالي څخه او یو له تاوتریخوالي څخه ډک متشدد اسلامي غورځنګ د نیواک په حالت کې انتخاب کړل شي. د موضوع ټاکنې لپاره یواځینې د عدم تشدد تحریک په برتانوي هند کې د خدایي خدمتګارانو غورځنګ کفایت کوي، چې په کافي اندازه څېړنې ته څېرنیز مالومات وړاندې کولې شي. په پرتلیز ډول یوبل پېژندل شوي اسلامي غورځنګ چې غواړې د زور زیاتیو او د تاوتریخوالي له لارې کړکیچ ته د حل لار موندلو لاره غوره کړې ده له دې امله دغه غورځنګ اپه کافي اندازه د اطلاعاتو او مالوماتو زیرمه لرې هغه فلسطیني غورځنګ حماس دی[13]. په لاندې څېرکې کې باید وڅېړل شي، چې آیا د عامه پوهاوي او کړکیچ ته د حل لار موندل ترمنځ په پام کې نیول شوي فرضي اړیکې په دواړو قضیو او موضوعګانو کې تثبیتیدلې شي.

د لومړۍ برخې پای

[11] د ښاغلي فان حویره په حوله د متحولیت دریم ډول اسانه کنټرول کیدای شي، کله چې د متحولیت څېړنې په مخکې بې حده ارزښتونه اینبودل شوي وي. د ښاغلي فان حویره پاڼه ۵۲: ۱۹۹۷ .

[12] . Vgl. Van Everra 1997 : 84, ( method of defference)   د متفاوتو میتودونو د استعمال په اړه.

[13] . د موضوع ټاکنه د ښاغلي فان حویره د ضوابطو او اساساتو پر بنسټ تر سره شوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ